AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# آزادي!

آزادي مي د امان د زړه ارمان دی
او له علمه ټوکیدلی پوخ ایمان دی

آزادي مي له خیراته خلاصېدل دي
آزادي زما پخپلو پښو درېدل دي

آزادي مي پـه وطن کې فابریکه ده
هسې نه چې موسسه ده پروژه ده

آزادي زمـا د خپل غـنـم ډوډۍ ده
آزادي زمـا وړۍ زمـا شـړۍ ده

آزادي زما د خپل وطن روغتون دی
آزادي زما مکتب زما پوهنتون دی

آزادي مي لـړې شوی اغزن تار دی
آزادي زما پخپل وطن اختیار دی

آزادي د قـرآن سمـه تـرجـمـه ده
آزادي مي جوړول دي نه جګړه ده

آزادي بـاوره نفس سره جهاد دی
نـه د خپل ورور په وژنه د بل داد دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ